د کابل مجلې څخه

ګڼه ۱۵۳ - مخ ۵ - قوس ۱۳۲۲ - ډسمبر ۱۹۴۳

داقتراح سلسله :

# دپښتو مشترك او بشپړ سبك

## (۵)

ښاغلی محمدرسول خان قندهاری :

دکابل دمجلې په (۱۵۰) ګڼه کښې مود (بشپړ، اومشترك سبك) ترعنوان لاندې بحثونه ولوستل په دې موضوع کښې الفت صاحب ښه توضيحات ورکړی وه اوزه هم ددملنګری په حکه ده خبره ښه سپړلی اومثالونه ئې راوړی وه چه له هغو څخه سړی ښه پوهېږی چه دسبك څخه مقصد څه شی، اوپه څه توګه دامقصد ترسره کېدای شی حبيبی صاحب پوښتنې کړيدی چه (پښتو دتر ليکلو بشپړ اومشترك سبك لری؟ اودغه سبك کافی، اوداديی ښېګړو وړدی که په؟ آيا دسبك تکميل ممکن دی؟ اوديارهٔ دتکميل دهغه څه بايد وشی؟) نواوس چه مطلب روښانه شوي، اوخبرنې يکښې شويدی زه په يوازی هغه برخه دخپلی رای ووايم چه نورو بحث نه وی پر کړی :

ښکاره خبره ده چه ژبه ديوه سړی مال نده چه دياره دتکميل ئې يوازی په قول ديوه خاوند اعتبار وشی، نوهرشی چه مال دډېر ووی تکميل ئې هم دډېر وخلقو منل غواړی اودډېر وخلقودخوا کېږی پښتو زمونږ مال ده لاکن په فائده دملکيت ئې بخوا نه پېبدو اوس پېيدلی يو نوهر څوك چه په بشپړوالی کښې ددې رايه ور کوی فقط دشخصی ذهنيت څخه بحث کوی چه هغه به دمشترك مال په خصوص کښې دمنلو وړنه وی. ځکه هر څوك هغه ليکی چه محاوره ئې کوی او محاورې هم اوس دنورو ژبو ترتاثير لاندې راغلی اوداسې ګډوډ رنګونه ئې پيدا کړيدی چه پخپله

ويونکی هم نه پوهېږی چه په وخت کښې دليکلو څه راز جملی سره ونښلوی چه هم مقصد پوره په اداشی، اوهم دادب ددائری څخه ونه وزې اوس پښتو ليکل مونږته داسې يو کاردی لکه چه دبل شی څخه ترجمه کوونو په داسې يوه مرحله کښې چه چاتر اوسه قوت دليکلو په عمومی ډول سره نه دی موندلی بشپړوالی اولا پر ادبی ښېګړو باندې په څرنګه فکر و کړای شی زما په خيال يدې کښې يو اوږد مشق لازم دی چه هر څه وواېو، اوهر څه وليکو چه اول قوت دليکلو، اوميته دملکيت سره راکښې پيدا کړو اودا کار عموميت وموندی بيانو دادبی ښېګړو ديارهٔ چه البته استعداد موجوددی اوهغه نوبله مرحله ده چه په ذوق ، او اوضاع پوری دمحيط اړه لری که په خپل وخت کښې فکر وشی زمايقين وی هلته به دا کار په داسې ډول سره وشی چه چا به ارادتاً زيار هم نه وی يکښې ايستلی- ولی دقرائنو څخه معلومېږی چه دزمانې اوضاع مخ د ساد ګۍ، او بساطت پر لور ځی يو وخت به راشی چه په خلقو کښې به دا ذوق لږشی چه دلفظی ښائيو څخه خوندواخلی اعتبار دمضمون به په اعتبار دمعنی وی ځکه به هر څوك تلاښ لری چه مطلب ته ژرځان ورسوی دغونه وخت به نه لری چه په استعارې اوتشبيه صرف شی ددې وخت مضمون به لکه يو عصری ناوی چه نوره ګينه نه لری اوپه خدائی حسن خيال کوی په ځای کښې دتولی ګينې به يو نازك رنګ

لری ( غازه ) چه هغه به مبدا سی ورسره ښکاری لکه خپل طبعی رنګ نو هر کله چه داکار دساده ذوق مقتضاده او ذوق ـ په یوه وار نه بدلیږی ځکه په راتلونکی وخت کښې ددی مدرسې دپاره مدرس پخپله طبیعت دی دلته که مې څوك ګرم نه کړی چه دموضوع څخه بهر شم یوه کیسه به عرض کړم هغه داده : چه د ایاس اقتراحی پوښتنې مادیوه بل پښتانه څخه وکړی هغه راته وویل چه دژبی دتکمیل دپاره ډېر شیان شته مګر اوس قابل دبحث نه لیده کیږی یوڅه وقت باید صبر وکړو مثلاً پر املا باید غور وشی : څوك وائی (موز) او څینې وائی ( مونږ ) زه دواړه خواوی پر حق بالندی بولم ځکه هغه ډله چه (موږوائی) دغه ئی محاوره ده نو داهیڅکله لازمه نده چه یو اضافه حرف چه پخپله طبیعت دمیانه څخه ایستلی وی بیرته په استناد ، یاقیاس دنورو شیانو بیله ضرورت څخه میان ته را وړه شی ـ او هغه خلق چه ( مونږ ) ښائی په ادا کښې دکلمې به د دغه زیاتی حرف آوازلیږ وډېر لری اوس به په محاوره کښې مونګ او په تحریر کښې به ( مونږ ) پاته شوی وی خو هر ډول چه وویله شی خپله موده نا آشنا نه ښکاری. ددی سړی خبره هر ډول چه وه زما هم خو ښه شوه که تر څه وخت پوری ځینی شیان پر خپل سر پاته او د طبیعت دلاس انتظار وباسو بده به نوی ـ مګر هو سلسلی ته د تنقید به په هغه ډول سره لکه الف صاحب چه د ادبی لاربنوونی په ضمن کښې خپرو له دوام ورکول کیږی اوروز نامو واخبارو ته به توصیه کوله کیږی چه عیناً هغه مضمون به بیادوی هم نشر کوی ، ځکه چه په دې کښې دوې فائدې دی : یوه داده چه دهغه ولایت وګړی چه مجله نه وائی هغوته به رسیږی ، او بله به دا فائده وی چه پخپله مقاله لیکونکو ته به خپلی غلطی ښکاری ، او په دې ډول سره به ورو ورو دا موجوده سبك اصلاح کیږی او دطبیعت د غیږی به نه جلا کیږی ددې خبرې ور هیسته زما په عقیده سمدستی فرقونه چه په ترکیب او تألیف کښې د جملاتو معلومیږی که دغه اصلاح شی نور املا وی ، او یا تعبیری اختلافات دد غه ندی چه اوس حاضراً نظر جلب کړی د پښتنو دخولې هر ډول ښې وینا وی ، او تعبیرونه چه په پښتو الفاظو را وزی خوازه لګیږی زه پخپله د ډېر و پېچلو مخالف یم ځکه چه ډیر ځله پیچل پراخلافوا غږیږه کوی په ضمن کښې دجوړ ولو ورانی، پیښیږی پښتانه فرق نه سره لری په ټولو شیانو کښې سره نږدې دی که زما په زړه وی خلق ( سپین غره ) ته دلمر لوېدو د خوا ګوری زه کله په ادبی چاروکی تراوړم دهغې بلې خواهم ورته ګورم ولې چه هغې خواته موهم پښتانه ، او د ژبی شریکان شته دی ـ دا ده ما خپله نظریه در و ړاندی کړه نور نو تاسی د مخه مونږ در پسې .

•••◆◆◆•••